# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


نشریه پیشرو شماره ۴۱

۱۲ دسمبر ۲۰۱۱

# «موږ بی شمیره یو!، تاسو لږ ...»

انقلابي او ژمن هنرمندان تل له ولسونو سره یو ځای د هغو ناخوالو او ناورینونو په ضد اعتراض کوي چې د زبیناکګرو او ښکیلاکګرو لخوا پر بیوزله زیارکښه ولسونو تپل کیږي. که چیرې یو هنرمند په داسي حال کې چې ولسونه راپاڅیدلي وي، اعتراض کوي، شعار ورکوي، سوکان پورته کوي او د غچ اخیستني ترانې زمزمه کوي، چپ پاتي شي یا له ولسونو سره د ملتیا په ځای لا په خپلو کوڅه ای هوسونو کې ډوب وي او یا په شرمناکه توګه د غلیمانو په چوپړ کې د خپل ګوګل په لیلاملو بوخت وي، داسي هنرمند نه وجدان لري، نه درد پیژني او هغه بی ضمیره او شند انسان دی چې په هیڅ ډول ورته د ولسونو هنرمند ویلای نشو.

ویکتور خارا، د چیلي نامتو او مبارز ترانه ویونکي په ځرګنده توګه ویلي دي:«یو هنرمند باید د اعتماد وړ پنځوونکی او په پرمختللي بڼه کې باید یو انقلابي وي... هغه ځوک وي چې د وسله والو چریکانو په څیر د واکمن نظام لپاره خطرناک وي، هغه هم له ولسونو سره د ټینګو اړیکو له لاری.» او که چیرې هنرمند له ولسونو سره اړیکي ټینګي نکړای شي او د یوه چریک په توګه د ترورمو او ناخوالو جګړي ته ونه درومي نو هغه یوازې هغه رنګین طوطي ته ورته کیږي چې په قفس کې ژوند کوي.

موسیقي کولای شي ولسونه منسجم کړي، د جنایتونو په ضد یې وهڅوي؛ «موسیقي هغه وسیله ده چې په مرسته یې کولای شو، پراخ ولسونه متحد او یو لاسي کړو»، او د هر ډول ښکیلاک او زبیښاک په وړاندې یې د مبارزې ډګرونو ته وهڅوو، د ولسونو احساسات، هیله او قهر، ماته او بریا په کې انځور کړو، خو که چیرې موسیقي دا پرتمینه موخه په پام کې ونه نیسي، هغه رمباړو ته پاتي کیږي چې له غوجل راپورته شي.

دا وخت په ټوله نړۍ کې د پانګوالی نظام پر ضد د قهر خوځښتونه پیل شوي او د بیلابیلو پانګوالو هیوادونو ولسونه نور هغه ظلم او زبیښاک، فقر او بیوزلي نشي منلی چې د همدې ظالمانه نظام زیرنده دي. دا وخت په امریکې، انګلستان، فرانسي، آلمان، ایټالیا، اسپانیا، جاپان او نورو پانګوالو هیوادونو کې ولسونه د فقر، بیکارۍ، نیستۍ، زبیښاک او ظلم په وړاندې شعارونه ورکوي او په دې هڅه کې دي چې د دې نظام مرکزونه (د وندو بازارونه) اشغال کړي، خو همدا

هیوادونه په دروغجن او کاذبانه ډول د ښکیلاک په موخه زموږ په وطن کې پراته دي او د «بیارغاوني»، «بشري حقوقو» او د «ترهه ګرۍ ضد جګړې» په نامه ملیاردونه ډالرې مصرفوي، ولې؟

دا هغه پوښتنه ده چې تر دې مهاله لسګونو با وجدانه هنرمندانو په خپلو ترانو کې ورته ځواب ویلی دی. دلته د بیلګې په توګه د ماکانا د ترانې (موږ بی شمیره یو!) یوه برخه وړاندې کیږي چې د اوسني ربړونکي شرایطو انځور دی او په ورته وخت کې د یوه باوجدانه هنرمند هغه فریاد دی چې ولسونه مبارزې او یووالي ته رابلي:

**موږ دلته سره یوځای راغونډ شوي یو**

**او هغه وخت رارسیدلی چې نور خپل قهر فریاد کړو**

**د هغو پر ضد چې په قفس کې مو بندي کوي**

**د هغو پر ضد چې د مُزد ارزښت مو غلا کوي**

**لابي کوونکي ناست په واشنګټن کې چټیات غړوي**

**د قانوني صلاحیت تر نوم لاندې یې غړوي**

**بروکراتان په آزادۍ کې پورته کړي قهقه د خندا**

**ځو یې چې نکړو جارو، موږ به نشو په شا.**

*

**تر هغه چې تاسو کوئ مزایده د اکثریت، نه د اقلیت**

**موږ به ټول واټونه اشغال کړو، محکمې به اشغال کړو**

**ستاسو دفترونه به اشغال کړو، دفترونه به اشغال کړو.**

*

**ملت مو جوړ په دې باور شو**

**چې هر وګړی حق لري د هوساینې**

**خو کله چې له سره د جمهوریت قوانین بیا ولیکل شول**

**ځو تنو ټول شیان تصاحب کړل**

**ټول شیان یې بی له کوم مسوولیته تصاحب کړل**

**هو تصاحب یې کړل، خو هغوی زما او ستا په شان نه دي،**

**هغوی د دې تصاحب د قانونی کیدنې لپاره خپل نفوذ کاروي**

**او تر هغه چې مخنیوی یې ونشي، موږ به آزادۍ ته ونه رسیږو.**

*

**تر هغه چې تاسو کوئ مزایده د اکثریت، نه د اقلیت**

**موږ به ټول واټونه اشغال کړو، محکمې به اشغال کړو**

**ستاسو دفترونه به اشغال کړو، دفترونه به اشغال کړو.**

*

**تاسو چې خپل انحصارات د وسلو په زور پلي کوئ**

**او زموږ زامن او لونې ورته قرباني کوئ**

**داسې ډیر شیان دي چې د ټولو خلکو دي**

**خو تاسو يې ټول له خلکو غلا کوئ**

**نو اوس يې په بدل کې زموږ اخطارونه واورئ**

**ستاسو پوچې خبرې نور پر موږ اغيزه نه کوي**

**موږ اعتراف کوو چې کم شيان به له لاسه ورکړو**

**خو زيات کسان به په اعتراضونو کې يوځای کړو.**

*

**موږ بې شميره يو**

**او تاسو لږ...**